مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۳/۱۰/۳۰

# موږ به هيڅ نه ليکو؟

تېره ورځ مي د آريانا افغانستان په سايټ کي، د محترم ډاکتر صاحب محمدعثمان تره کي هغه ليکنه ولوستله چي د ښاغلي توخي د نظر په مقابل کي يې کړې وه. د محترم ډاکتر صاحب له ليکني څخه داسي يوه سوم چي موږ بايد پر اسلامي امارت او د هغه پر پاليسيو او اعمالو باندي انتقادونه ونه کړو. « او د مکتبيانو او طالبانو ترمنځ اختلاف بايد دونه ژور نه سي چي له هغه نه د وطن دښمنان ګټه پورته کړي ځکه چي قومي ډېره کی تر هرڅه مخکي يووالي ته اړتيا لري. اختلاف د کمزورۍ لامل ګرځي. د افغانستان په معاصر تاريخ کي په کراتو د قومي اکثريت په منځ کي د اختلاف د رامنځته کېدلو سره جوخت د وطن دښمنانو د افغانستان د ټوټه کېدلو ږغ را پورته کړی دی»

محترم ډاکترصاحب ته بايد عرض وکړم چي د طالبانو او مکتبيانو ترمنځ اختلاف طبيعی دی او چي هر څونه پر ده ورباندي وغوړول سي هغه د پټېدلو نه دی. راغلو د جملې دوهمي برخي ته چي واياست له دې اختلاف څخه دښمنان ګټه پورته کوي. ستاسي مطلب خوبه، خدای مه کړه، دا نه وي چي موږ د دښمنانو د استفادې يا بدي استفادی له وېري حقيقت پټ کړو؟ زما خو چي ګوتي له قلم سره آشنا سوي دي، په نظم او نثر کي مي، حقيقت نه دی پټ کړی او د حقيقت ليکل مي، له لومړۍ ځوانی څخه، شعار دی. له حقيقت ويلو څخه به دښمنان ګټه پورته کړي خو د دښمن دا ګټه به موقتي تاوان ولري مګر د حقيقت د روښانولو او قوم خبرولو او سترګو خلاصولو ګټه دايمي ده.

د دې کلماتو په دوام مو داسي څه ليکلي دي چي ما يې، ستاسي په څېر يوه سپين ږيري استاد او عالم څخه، هيڅ انتظار نه درلود. تاسی ليکلي دي چي د افغانستان په معلصر تاريخ کي د قومي اکثريت تر منځ د اختلاف د رامنځته کېدلو سره د وطن دښمنانو د افغانستان د ټوټه کېدلو ږغ راپورته کړی دی. ستاسي له متن څخه داسي مستفاد کيږي چي يوازي اکثريت په وطن کي د اوسېدلو حق لري او يوازي اکثريت دی چي د دې هيواد له اتحاد سره مينه لري او اقليتونه د هغوی د اختلاف په صورت کي د وطن د ټو ټه کېدلو ږغ پورته کوي. تاسي به د خپلو دې کلماتو لپاره چي ليکل يې، هر وخت او په تېره بيا په اوسنيو شرايطو کي، هم خطرناک او هم مضر دي هر ډول توجيهات برابر کړی مګر چي هر څومره يې واړوی او را واړوی نتيجه به يې همدغه وي. محترم ډاکتر صاحب لطفاً د داسي کلماتو له ليکلو او حتی فکر کولو څخه پرهېز وکړی. اکثريت او اقليت په دې هيواد کي دواړه د ژوند کولو مساوي حق لري او دواړو ته بايد مساوي مدني حقوق ورکړه سي. هيڅ قوم د بل هيڅ قوم دښمن نه دی بلکه په هيواد کي ورونه قومونه ژوند کوي. هر قوم ته بدبيني او له هر قوم سره دښمني، په حقيقت کي له ټول افغانستان او ټولو اقوامو سره بدي او دښمني ده. زه هيله کوم چي په دې مسله کي حتی بحث دوام هم ونه کړي بهتر به وي.

محترم ډاکتر صاحب. تاسي ليکلي دي چي طالبان د دوستی په دريځ کی نيوکو ته هرکلی وايي. خو د دښمنانو د انتقادونو په وړاندي توند غبرګون ښيي.

زه ګومان نه کوم چي د طالبانو د قدرت په دې څه باندي دوه کلنه دوره کی به ستاسي په سطح سپين ږيری عالم او حقوق پوه افغانستان ته تللی او د طالبانو له مقاماتو سره ږغېدلی وي. تاسي حتی له ملا هبت الله سره، چي له خپلو طالبانو او وزيرانو سره هم نه ګوري، وکتل. تاسي ويلای سی؟ چي طالبانو ستاسي کوموعلمي او تعليمي مشورو ته غوږ نيولی او کومي مشورې يې عملي کړي دي. که طالبانو ستاسي پر مشورو باندي غوږ نيولای او ستاسي په مشورو يې عمل کولای نو تاسي به ولي د دعوت په اخبار کي ليکل چي د طالبانو لاره ترکستان ته تللی ده.

لومړی خو محترم ډاکترصاحب او د خپل مضمون ټولو لوستونکو ته وايم چي انتقاد، که حتی نامعقول او حتی خصمانه هم وي، چاته تاوان نه رسوي. معقول او پرځای انتقاد خو، په هرو شرايطو کي، عمومي ګټه لري. انتقاد بايد دښمني ونه ګڼله سي. دغه راز بايد له ټولو کسانو څخه د يوه شان او پر يوه طرز انتقاد کولو انتظار ونه سي ځکه چي د انتقاد کوونکو فکرونه، نظرونه او د افادې او ليکلو طرزونه مختلف وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

دوهم داچي پر طالبانو باندي انتقاد د عطا، دوستم، سیاف، محقق او ... د مخکني نظام تایید ونه ګڼل سي. پخواني نظام خپلي نیمګړتیاوي درلودلې او اوسنی نظام خپلي او جلا نیمګړتیاوي لري. حتی له طالبانو سره دښمني د مخکني نظام سره د دوستی معنا نه لري. ما شخصاً، د یوه لیکوال او شاعر په حیث، هم د پخواني نظام سره مخالفت څرګند کړی او خپاره سوي مضامین او نظمونه مي موجود دي او هم مي له طالبانو سره مخالفت کړی او علت مي ویلی او لیکلی دی. که یو افغان د طالبانو په تایید کي مضمون یا مضامین لیکي بل افغان ته هم باید له هغوی سره د مخالفت کولو او مخالفو لیکنو حق ورکړي. دا اصل باید عام وي. د یوه بل له نظره اختلاف طبیعي دی؛ خو موږ افغانان د نظر له اختلاف څخه شخصي دښمني جوړوو او کوښښ کوو چي د انتقاد جواب په دونه توندو الفاظو ورکړو چي څوک بیا د انتقاد کولو جرأت ونه کړي.
په اوسنی مرحله کی که څوک د طالبانو د نظام په مقابل کي د وسله وال پاڅون یا جګړې د پیل کولو ږغ کوي او یا جګړه د حل د لاري په حیث پیشنهادوي هغه به د ټول افغانستان دښمن وي ځکه چي موږ د غرب په آرامو هیوادونو او شرایطو کي ژوند کوو او وطنوال مو دا څه د پاسه ۴۵ کاله کیږي چي د جنګ په اور کي سوځي. خو د جنګ له تایید څخه پرته نور هر ډول انتقاد کول باید وزغمل سي او په ښو کلماتو جواب ورکړه سي. قلمي او عقیدوي اختلاف دښمني نه ده بلکه طبیعي پدیده ده. نیمګړتیاوي هر چا درلودلي او لري یې او طالبان له دې امر څخه مستثنی کېدلای نه سي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ